سرمقاله

# شمال کشور در آستانه فاجعهء بشری

مردم مناطق شمال کشور با خطر جدی ناشی از پیامدهای زیانبار خشکسالی امسال رنج می برند. هوای خشک سال روان، عدم ریزش باران های موسمی و بی اعتنائی مقامات مسؤول در بازسازی شبکه های آبرسانی در اکثر ولایات شمال سبب گردیده است که حاصلات کشتزارهای این مناطق بدلیل نبود آب کافی تا بیشتر از نود در صد کاهش یابد.

گزارشها حاکی از آنست که همین اکنون شماری زیادی از خانواده های ولایات مختلف شمال در حال ترک خانه ها و مناطق شان و مهاجرت اجباری به کشور های همسایه هستند.

اکثریت باشندگان این مناطق که مخارج زندگی شانرا از طریق فروش محصولات زراعتی تامین مینمایند. در حال حاضر با خطر گرسنگی مواجه شده اند و این در حالیست که سرمای شدید زمستان فرارسید نیست و آنعده از مردمانیکه توان کوچیدن به مناطق دیگر در داخل کشور و کشورهای همسایه را ندارند با فاجعه بزرگ بشری مواجه اند.

حدود پنج سال از تحولات اخیر که افغانستان را در مرکز توجه جامعه جهانی قرار داده است سپری گردیده و درین مدت ملیاردها دلار بمنظور بازسازی عرصه های مختلف زندگی اجتماعی – اقتصادی مردم ما مساعدت گردیده است.

درین مدت زمینه ها و فرصت های فراوانی فراهم گردید تا با تحقق برنامه های عام المنفعه و باز سازی عرصه های گوناگون، بخشی از دشواریهای فراراه مردم مناطق مختلف کشور مرفوع گردد.

هر چند راه اندازی پروژه همبستگی ملی که عمدتاً معطوف به احیای مجدد و نو سازی عرصه های مختلف زندگی مردم بویژه در مناطق روستائی بوده است، اثرات مثبتی از خود بجا گذاشته و شماری از مشکلات مردم مورد توجه قرار گرفته و با مشارکت مردم و تشخیص اولویت های مناطق مختلف پروژه های زیادی به انجام رسیده است که در مواردی به احیای منابع سنتی آب زراعتی نیز پرداخته شده است، اما به نظر میرسد که کار های انجام شده متناسب باسطح مطالبات مردم نبوده و نتوانسته است برای برگرداندن مردم به زندگی عادی مفید و موثر واقع شود.

این در حالیست که افزایش کشت مواد مخدر، نشاندهنده یاس روز افزون زارعین از توجه مقامات مسوول دولتی و دریافت مساعدتهای زراعتی می باشد این یأس و سردرگمی سبب خواهد شد که عده ای زیادی آنانیکه کشتزارهایشان بدلیل فقدان آب و تداوم خشکسالی حاصلات نداشته اند. در سال آینده به کشت خشخاش روی آورند.

توجه به احیای سکتور زراعت، فراهم آوری تسهیلات بیشتر برای دهقانان، جستجوی راهای حل مناسب برای دسترسی به منابع آبی در ولایات مختلف، جلب مساعدتهای بین المللی درین عرصه از مهم ترین اولویت هاست که بصورت جدی باید مورد توجه مسولین قرار گیرد.

و اما مهمتر ازین توجه به وضعیت کنونی شماری زیادی از خشکسالی زده گان شمال در آستانه فرارسیدن سرمای زمستان است که اگر با دقت و دلسوزی در رسانیدن کمک های عاجل مانند مواد خوراکه و سایر نیاز مندیهای اولیه به آنها اقدام عملی صورت نگیرد، درنتیجهء قحطی، گرسنگی و فقر با فاجعهء بزرگ بشری روبرو خواهند بود.

لازم است به سرعت نیاز مندیهای اولیه مردم بصورت دقیق و همه جانبه مورد سنجش قرار گرفته و با جلب مساعدت مجامع بین المللی و دولت بدون اتلاف وقت به رفع نگرانی های از ین بابت پرداخته شود و از بروز فاجعه دردناک بشری جلوگیری گردد

# د روژې احکام، آداب او فضایل

له سپېده داغ نه تر ماښامه پورې له خوراک څښاک او کورواله (جماع) څخه پرهېز کولو ته روژه وايي. روژه د اسلام دريم رکن او د دې ايات په اساس چې فرمايي (ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی پرتاسې د نورو پخوانيو خلکو په شان روژه فرض ده، ښايي پرهېزګاره شي) سورت بقره ۱۸۳ آيت

روژه د اسلام د پنځو ارکانو څخه ده، د الله(جل جلاله) سپېڅلی کتاب قرآن شريف په همدې مبارکه مياشت کې نازل شوی دی، انسانانو ته ښايي چې په کلمه طيبه، استغفار، د جنت هيله او د جهنم له اور څخه په پناه غوښتلو د خپل رب رضا ترلاسه کړي.

روژه د هجرت په دويم کال په مدينه منوره کې پر مسلمانانو فرض شوې ده چې نور معلومات يې په لاندې ډول دی :

**د روژې حکم:** روژه د لاندې شرطونو په رڼا کې په هر مسلمان فرض عين ده.

د فرضيت شرطونه:

1_ نيت: د شيې له خوا نيت کول، ځکه بې له نيت څخه يو عبادت هم نه قبلېږي.

2_ اسلام: د کافر روژه تر هغې نه صحيح کېږي تر څو چې يې ايمان نه وي راوړی.

3_ عقل: په لېوني باندې روژه فرض نه ده، تر څو چې هوښيار شوی نه وي (له لېونتوب نه جوړ شوی نه وي او د سالم عقل خاوند شوی نه وي).

4_ بلوغ: په ماشوم (واړه) باندې نه ده فرض، تر څو چې بالغ شوی نه وي (رسېدلی نه وي). خو که نيول يې شوني وي ښه ده، تر څو ماشوم د اسلامي ارکانو سره آشنا لوی شي.

5_ وس او توان: که څوک د روژې نيولو وس يا توان نه لري ورباندې فرض نه ده لکه: مريض (هغه مريض چې د رغېدو تمه يې نه وي نو د هرې ورځې فديه به ورکوي، خو که د جوړېدلو هيله ورته کېږي بيا به فديه نه ورکوي او د خوړل شوې روژې قضايي به راوړي)، بوډا (شيخ فاني). هم چې روژه نيول پرې لازم نه دي، فديه به ورکوي. همدا شان په مساپر روژه نيول لازم نه دي، خو قضايي به راوړي او که څه ستونزه ورته نه وي بيا يې نيول ښه دي.

6_ ښځينه ناروغي (حيض او نفاس):

الف. د حيض په موده کې روژه نيول نشته، کومې ښځې ته چې خپله مياشتنۍ ناروغي (حيض) پېښه شي، نو تر هغې پورې پرې روژه نيول نشته، تر څو چې له دې ناروغۍ څخه پاکه شوې نه وي، کله چې يې ناروغي خلاصېږي نو پاتې روژه به نيسي او وروسته به د خوړل شوې روژې قضايي راوړي.

ب. د نفاس په موده کې هم د روژې نيول نشته، د کومې ښځې چې ماشوم پيدا شي، نو روژه ورباندې نشته تر هغو پورې چې له څلوېښتۍ (د نفاس له مودې) څخه پاکه شوې نه وي.

7_ تی ورکونکې (مرضعه) او حامله: کومه ښځه چې د ماشوم په ژوند او روغتيا وېرېږي (ياني د مور روژه نيول ماشوم ته زيان رسوي) نو د روژې خوړل يې مور ته روا دي، خو چې وروسته يې قضايي راوړي .

**د روژې ادبونه او هغه عملونه چې په روژه کې بايد ورته ډېره پاملرنه وشي**

1_ په روژه ماتي باندې سنت دعا ويل، نبي(صلی الله عليه وسلم) وايي: کله مو چې روژه ماتوله نو دا دعا به وايي: (اَللّٰهُم لَکَ صُمتُ وَبِکَ آمَنتُ وَعَلَيکَ تَوکلتُ وَعَلَى رِزقِکَ اَفطَرتُ)

2_ پشلمی کول: نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) وايي: پشلمي وکړئ ځکه دې کې برکت وي.

3_ په روژه ماتولو کې بيړه: کله چې لمر ولوېږي نو بايد د روژې په ماتولو کې بيړه وشي، نه دا چې شپې راختلو(د ماښام تيارې) ته نور هم انتظار وشي، خو ږ نبي(صلی الله عليه وسلم) وايي: زما امت به تر هغې پورې په خير وي، څو پورې چې په روژه ماتي کې بيړه او تلوار کوي. (روژه ماتول په کجورو او يا هم اوبو باندې غوره دي، ځکه نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) به په همدې څيزونو باندې روژه ماتوله).

4_ په نفلي لمونځونو او په ځانګړې توګه د تهجد په لمانځه کې او هم د قرآنکريم په لوست (تلاوت) کې زياتوالی، مومن ته پکار دي چې په روژه کې د قرآنکريم لوست (تلاوت) زيات وکړي.

ابن عباس رض وايي: جبرايل عليه السلام به نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) ته هره شپه راتلو او د قرآنکريم لوست (تلاوت) به يې ورسره کولو او همدا ډول بايد په نفلي لمونځونو کې کوشش وشي، ځکه نبي(صلی الله عليه وسلم) وايي: په روژه کې نفل کړل د فرض لمونځ ثواب لري .نبي کريم صلی الله عليه وسلم وايي چا چې په روژه کې په پوره ايمانداری او باور شپې رڼې کړلې (د شپې يې لمونځونه وکړل) نو موړی ته به تېر شوي واړه ګناهونه وبښل شي او پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) دا هم وايي: څوک چې په امام پسې تر آخره ودرېږي ياني لمونځ او تراويح په پوره توګه ادا کړي ده له به د يوې شپې ادا شوي عبادت ثواب وليکل شي.

5_ خيرات او ورکړه: ابن عباس وايي: نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) له ټولو خلکو اوچت سخي وو، خو په روژه کې به يې سخا (ورکړه) لا پياوړې شوه.

نو مومن ته پکار ده څومره يې چې له وسه کېږي، نورو مسلمانانو ته د خير ښېګڼې لاس ورکړي.

دا هم په ياد ولرئ چې ښه خبره هم نيک کار او صدقه ده او خلاص تندی نيول د مسلمان ورور په وړاندې هم عبادت دی. دا خو نو د هر چا د وسه کېږي! نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) دا هم ويلي: غوره صدقه او ورکړه په رمضان کې وي، ياني ثواب يې ډېر وي. پس څوک چې چا ته روژه ماتی ورکړي ده ته به هومره ثواب وي کوم چې خپله روژه نيونکي ته وي، سره له دې چې د روژه تي له ثواب څخه به هيڅ هم نه کمېږي. (نو غوره به دا وي چې مومن د بل چا په څيز باندې روژه ماته کړي، تر څو دواړو ته د روژې ثواب زيات شي)

6_ اعتکاف (په جومات کې د عبادت په نيت کيناستل)

نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) به په روژه کې لس آخرې شپې اعتکاف کولو، خو کله چې له دنيا نه تلو، په هغه کال يې د روژې شل آخرې شپې په اعتکاف کې تېرې کړې.

7_ عمره ادا کول: نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) وايي: په روژه کې د عمرې ادا کولو ثواب د حج د ادا کولو سره برابر دی.

8_ له کمکي اختر نه وروسته د شوال د مياشتې شپږ ورځې روژه نيول: ياني کله چې روژه او کمکی اختر تېر شي نو بيا د شوال په مياشت کې شپږ ورځې روژه نيول سنت دي، خو هېره دې نه وي چې نيول يې په ټوله مياشت کې دي، ترتيب او يا هم د اختر د دوهمې او يا څلورمې ورځې څخه پيلول شرط نه دي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم وايي: چا چې روژه ونيوله بيا يې وروسته د شوال د مياشتې شپږ ورځې هم روژه ونيوله، ګواکي لکه ټول عمر يې چې روژه نيولې وي.

9_ د بدو خبرو او کنځلو ځواب په نرمه ژبه: ياني که څوک روژه تي ته بده خبره او يا کنځل وکړي نو هغه ته پکار ده چې ورته په نرمۍ ووايي: زما روژه ده. نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) وايي: که تاسو ته چا په روژه کې کنځل او يا هم بدې خبرې وکړې، نو تاسو يې ځواب مه ورکړئ، او ورته وايئ: (اِنِي صَائمٌ) زه روژه يم.

10_ ډېرې دعاګانې کول: نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) وايي:د دريو کسانو دعا الله جل جلاله نه ردوي:

1_ د روژه تي تر روژماتي پورې.
2_ د مظلوم چې تېرې ورباندې وشي.
3_ د عادل بادشاه.

د روژې مکروهات (هغه کارونه چې بايد روژه تی ورځنې ډډه وکړي)

اول: د ورځې ډېر خوب کول.

دويم: له اندازې نه ډېر خوراک او څښاک.

دريم: پشلمي دومره په وخت کول چې بيا د سهار تر لمانځه خوب وشي او يا هم ټوله شپه په ويښه تېرول تر پشلمي پورې چې بيا د سهار لمونځ يا خو قضا او يا هم ناوخته ادا شي.

څلورم: په تراويح لمانځه کې سستي او يا هم د هغه پرېښول.

پنځم: په بې ځايه لوبو ورځ بيګا کول.

شپږم: د کور او دنيا په کارونو باندې ډېر وخت ضايع کول، په ځانګړې توګه ښځې يې چې د ګنډلو په شيانو تېروي او هر څه يې د روژې مياشتې ته ساتلي وي.

اووم: بد او ناروا عملونه لکه: دروغ، غيبت، کينه، تهمت، بد ګمان او داسې نور... خو دا ټول څيزونه سره له بد والي يې په روژه کې ګناه هم ده.

اتم: په ناوړه او خوشې خبرو وخت تېرول په دې هيله چې د روژې ورځ بېګا شي .دا او نور ټول هغه څيزونه چې مومن د خدای جل جلاله له عبادت او يادولو څنې باسي بايد ځان ترې وساتل شي او مسلمان ورور ته يې هم د ځان ساتلو او له هغه نه د پرېښودلو خبره وشي ځکه د اسلام مبارک دين د نصيحت په ملا تړ ټينګار کوي نو دا چې وهر چا ته وي! او نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) وايي: څوک چې دروغ ويل او ناوړه کارونه پرې نږدي، نو الله جل جلاله دده د ډوډۍ نه خوړلو، او اوبو نه څښلو ته اړ نه دی. ياني روژه يوازې دې ته نه وايي چې خوراک او څښاک پرېښودل شي او بس.

ابن المنير وايي: د الله د نه اړتيا (فَلَيسَ لِلّٰهِ حَاجهٌ) مانا دا ده چې روژه يې نه قبلېږي.

**د روژې ځانګړتياوې او فضيلتونه:**

روژه مبارکه بې شمېره ځانګړتياوې او فضيلتونه لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

1_ د روژې ثواب او اجر دومره دی چې بېله الله جل جلاله څخه بل هيڅ څوک ورباندې نه پوهېږي او نه يې هم ليکلی شي، نو ځکه خو لوی ښتن د خپل نازولي رسول(صلی الله عليه وسلم) په ژبه وايي :روژه زما ده او زه به يې بدل او ثواب ورکوم.

2_ څوک چې يوه ورځ د خدای جل جلاله په لاره کې روژه ونيسي، الله جل جلاله به يې د دوزخ له اوره د اويا کالو په عمر لرې کړي، نو څه فکر به مو د يوې مياشتې روژې په اړه وي ؟

3_ روژه د اخرت په ورځ د روژه تي سپارښتنه (شفاعت) کوي، تر هغې چې جنت ته يې د ننه کړي.

4_ د ريان له دروازې (چې په جنت کې ځانګړی او اوچت مقام لري) يوازې روژه تيان ننوځي.

5_ روژه پخواني ټول واړه ګناهونه له مينځه وړي (ښښي)

6_ په روژه کې د جنت دروازې پرانستل کېږي، او د دوزخ دروازې تړل کېږي

7_ مومن لره هره ورځ جنت ښايسته او رنګين کېږي.

8_ په روژه کې د نېک عمل ثواب څو چنده زياتېږي.

9_ ملايکې تر روژه ماتي پورې روژه تي ته له الله نه د ښښنې دعاوې کوي.

10_ د روژه تي د خولې بوی لوی ښتن جل جلاله ته له مښکو او عنبرو نه هم زيات او غوره دی.

11_ په روژه کې شيطانان تړل کېږي، او د جنتونو او اسمانونو دروازې پرانستل کېږي.

12_ په دې مياشت کې له چا سره نيکي کول لکه د نورو مياشتو د فرضو دومره ثواب لري او په دې مياشت کې د يوه فرض اداکول لکه په نورو مياشتو کې د اويا فرضو د اداکولو سره سمون خوري، دا د صبر مياشت ده او د صبر بدله جنت ده، دا مياشت له خلکو سره د غم خوړلو (له خلکو سره د نيکي کولو ) مياشت ده.

13_ صحابه کرامو عرض وکړ چې اې د خدای رسوله: په مونږ کې خو هر يو دومره ځواک نه لري چې روژه درلودونکي ته افطار ورکړي؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : پورتنی ثواب چا ته په مړه خيټه تر ډوډۍ ورکولو پورې نه دی تړلی، بلکې که څوک چا ته يوه خرما ورکړي يا يو غړپ اوبه يا شړومبې وروڅښي هغه ته به هم خدای جل جلاله دا ثواب ورکوي.

14_ دا داسې مياشت ده چې لومړنۍ برخه يې رحمت ده، منځنۍ برخه يې مغفرت ده او دپای برخه يې له اور څخه خلاصېدل دي . هرڅوک چې په دې مياشت کې دخپل غلام (خادم) بار سپک کړي (همکاري ورسره وکړي ) نو لوی پالونکی ښتن جل جلاله به هغه ته ښښنه وکړي او د دوزخ له اوره به يې خلاص کړي.

15_ څلور شيان ډېر کوۍ: په دې کې لومړني دوه د الله تعالی درضا (خوښۍ) لپاره دي او وروستني دوه يې بيا هغه دي چې له هغو څخه ستاسې خلاصی نشته (ستاسې لپاره هرومرو ګټل کيږي (لومړني دوه شيان دکومو له امله چې تاسې خپل پالونکی راضي کوۍ هغه:

1_ دپاکې کليمې (اشهد ان لااله الاالله واشهد ان محمدا رسول الله) ويل.

2_ داستغفار (استغفر الله ربي من کل ذنب واتوب اليه) ډېر ويل دي او وروستني دوه يې:

الف: دجنت هيله کول.

ب: ددوزخ له اور څخه پناه غوښتل دي.

څوک چې روژه تي ته اوبه وروڅښي، نو لوی خدای جل جلاله به زما له حوض څخه (دقيامت په ورځ) هغه ته داسې اوبه وروڅښي چې بيا به جنت ته تر ننوتو پورې تږی نشي.

له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي کله چې رمضان راشي، نو دجنت دروازې پرانستل شي او د دوزخ دروازې وتړل شي او شيطانان په ځنځيرونو کلک وتړل شي . په يوه روايت کې دابواب الجنه په ځای دابواب الرحمه توری راغلی. له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي کله چې د رمضان لومړۍ شپه شي، نو شياطين او سرکښ پيريان وتړ ل شي، د دوزخ ټولې دروازې وتړل شي تردې چې يوه دروازه يې هم پرانستې نه پريښودل کيږي او دجنت ټولې دروازې پرانستلې شي تردې چې يوه دروازه يې هم تړلې نه پاتې کيږي او دالله تعالی چيغه وهونکي چغې وهي چې: اې خير غوښتونکو رامخکې شئ او اې بد غوښتونکو ودريږئ او مه رامخکې کيږئ او د الله تعالی ډېر بنده ګان له دوزخ څخه خلاصيږي (دبښنې فيصله يې کيږي) اودا ټول څه درمضان په هره شپه کې کيږي.

يادونه: په پورتني حديث کې په ځانګړي ډول هغه چا ته خبرداری دی څوک چې د روژې په مهال هم بد رد او ناوړه توري استعمالوي . همدا راز هغه چا ته هم لوی خبرداری دی چې په روژه کې جګړې کوي . داسې کسان ښايي د ځانونو اصلاح وکړي هسې نه چې خدای مه کړه کړی تکليف مو په اوبو لاهو شي .لوی خدای جل جلاله دې په مونږ تاسو او د نړۍ په ټولو مسلمانانو روژه ښه تيره کړي او لوی خدای جل جلاله دې د نېکو کارونو توفيق راپه برخه کړي او لوی خدای جل جلاله دې زمونږ روژه مونږ ته دآخرت لپاره زېرمه وګرځوي او خدای جل جلاله دې ثوابونه پرې راکړي.

آمين ثم آمين يارب العلمين

امين الله عادل

